# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| | |
|---|---|
| مسایل ایدولوژیک | Ideological |



محمد هارون خپل شعشعي


۲۸ اپریل ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## لیکنه او څېړنه
## ۴۷

### ۱۰۸- ژونداومړينه :

د ژوند او مړيني ارزښتناکي مسألي ته، په اسلامي تصوف او عرفان کي، له خورا ژوري او ځانګړي زاويي څخه کتل کيږي، چي ښايي د نورو علومو له دوديزو نظريو سره تر زياتي ګچي توپير ولري . دلته د دي موضوع پر ځينو عرفاني او فلسفي برخو رڼا اچوو .

لکه څنګه چي، د جلال او جمال تر سرليک لاندي يادونه وسوه، الله سبحانه وتعالى په خپلو جمالي صفتو سره، کاينات پيدا کړه؛ د ځانګړي مقصد دپاره يي په خپل « کُن فيکون » سره د کايناتو په ټولو موجوداتو او مصنوعاتو ( جماد، نبات، حيوان، انس او جن) کي د ژوند سا پو کړه ؛ وروسته يي يو يو د خپل جلال په ځپو د نيستي عالم ته ولېږل؛ د موجوداتو او مخلوقاتو د ژوند او مرګ بهير له ازله تر ابده، په همدې بڼه روان دئ . په اسلامي تصوف او عر فان کي د موجوداتو ژوند او پيدايښت ، د حق تعالى بې ساري معجزه او بې بديله پېرزوينه ګڼل کيږي . عارفان، د قرآني نصوصو او نبوي حديثوپه استناد، د انسان د پيدا ينت اصلي او اساسي هدف، د عرفان او معرفت تر لاسه کول بولي . له دي امله ناڅاپي نه د ه ، چي بې عرفانه ژوند ته د پوچ او بې مانا وخت تېرولو؛ او بې معرفته عبادت ته د رسم او عادت په سترګه ګوري .

مړينه هم د ژوندانه په څېر د هر ژوندي موجود حتمي او نه بېلېدونکي برخه ده . انسانان ( مؤمن يا منکر، پر هيز ګار يا فاسق) هم د نورو ژونديو موجوداتو په شان هر يو جلا جلا، پر خپل ټاکلي وخت، د مرګ او نيستي خوا ته رهي دي . دا عرفاني او فلسفي مسأله د آل عمران د سورې د يوسلو پينځه اتيايم آيت ( ۳: ۱۸۵) په يوه برخه کي په پوره صراحت سره بيان سوې ده : « كل نفس ذآئقة الموت . . . » ياني هر نفس به د مړينه خوند وڅکي . د مړيني پر مهال ربړ او عذاب، تر مرګ وروسته د پرهېزګارانو ګوناوي بختبي؛ خو د

کاپیرانو(کافرانو) د مړیني درد او تکلیف، په ژوندانه کي د هغوی د بدو عملو ربړونکي پای؛ او د حق تعالی د ټاکل سوي جزا پیل دئ . دا مسأله د نحل د سورې په نه ویشت آیت(۱۶: ۲۹) کي داسي بیان سوې ده : « فادخلو ابواب جهنم خالدین فیها فلبس مثوی المتکبرین .» د آل عمران د سورې دیوسلو پینځه څلوېښتم آیت (۳: ۱۴۵) په یوه برخه کي د بې نیازه خالق له خوا پر ټاکل سوي وخت، د هر نفس د مړیني موضوع داسي راغلي ده : « و ما کان لنفس ان تموت الا باذن الله کتبا مؤجلا » یاني هیڅ نفس، بې د الله تعالی له لیکل سوي امر او ټاکل سوي وخته، نه مري .

د اسلامي لارښونو له مخي، د انسان مړینه د هغه د ژوندانه په څېر یو ازمایښت یا ازموینه ده؛ خو دا ازمایښت تر بلي هري ازمویني ډېره سخته او ګرانه ده . کېدای سي د مرګ دردونه او سختی په ځینو کسانو کي د ایمان د زیان او بطلان موجبات برابر کړي؛ یا بر عکس یې ایمان او باور لا ټینګ او پیاوړی کي . که په انسان کي د خدای مینه او ایماني ریښي پیاوړي یې، هغه د مرګ په شان ربړونکو شېبو کي هم دخپل لایزاله څښتن په وړاندي د اطاعت سر ټیټیي؛ او د ژوندانه دې وروستي امتحان ته هم په خوښی غاړه ایږدي . حق تعالی دنحل د سورې په دو دېرشم آیت ( ۱۶ : ۳۲) کي دنېکانو د مړیني په باب د اسي حُکم کیې(کوي) : « الذین تتوفهم الملئکة طیبین یقولون سلم علیکم ادخلو الجنة بما کنتم تعلمون » یاني پریښتي د( پرهېزګارو) کسانو د اروا اخیستلو پر مهال هغوی ته وایي، پر تاسو ته دي سلام یې( وي)؛ ( په دونیا کي) د خپلو ( نېکو) عملو له امله جنت ته ننوزئ۱ .

سیدالمرسلین - حضرت محمد( ص) د انسان د مړیني د سختو او دردونکو شېبو په باب په یوه مبارک حدیث کي داسي لارښوونه کړي ده : « مړینه ډېر ځورونکی پړاو دئ . که څه هم کېدای سي په ځینو حالاتو کي څوک د درد او عذاب له ښکاره نخښو پرته سا ورکړي . »

هر څوک دا هیله لري، چي ژوندیي بې درده پای ته ورسیږي؛ خو په حقیقت کي داسي نه ده . لکه څنګه چي د قاف د سورې په نونسم او شلم آیت کي راغلي دي : « و جآء ت سکرة الموت بالحق ذلک ما کنت منه تحید » یاني په ریښتیا سره به د مړیني بې هوښي او حیرانتیا درسي؛ او دا هغه څه دي، چي هیڅکله به دي یې منلو ته غاړه نه ایښووله۲ .

زموږ مفکر عارف، علي محمد مخلص، په خپله ژوره او نوښتګره شاعري کي، عرفان د انسان د ژوند یوازنی مقصد بولي . هغه د « اول الدین معرفة » عرفاني مقولي ته په پاملرنی سره، بې معرفته ژوند ته د بې مقصده عمر؛ او بې عرفانه عبادت ته د یوه مردود او نامنلي رسم په سترګه ګوري . مخلص، په خپل ژور عارفانه کلام کي له قرآني حُکمو او لارښوونو سره سم، د انسان د ژوند ستر رسالت داسي بیانیي :

ته عرفان لره راغلئ یې باور کړه!
که دي شک وي نظر وکړه و قــرآن ته
بې عرفانه عبادت ناقبول ګــوره!
کُل سجده دي په باطن کي ده شیطان ته

مړینه په ریښتیا هم هغه ګړی دئ، چي په اورېدو سره یې نه یوازي د عامو وګړو په وجود کي ناپایه ېېره او وحشت پیدا کیږي، بلکي د ډېرو زړورو او غښتلو کسانو پر زړو هم لړز ي او زلزلي راولي؛ خو همدا مړینه له خپلي ټولي ېېر ي او وحشت سره سره، د حق تعالی د میني سوځېدونکي عارف ته ډېر ښکلی، خوږ او پرتمین ګړی بلل کیږي . د مړیني غوښتنه، په حقیقت کي له الهي ذات سره د عارفانو د ریښتیني میني انکار نه

منونکی ثبوت دئ . عارفان او متصوفان، هیڅکله مړيني ته د انسان د فنأ او نېستی په سترګه نه ګوري . د دوی په اند، مړينه له کښته مقام څخه د لوی او لوړ مقام پر لور د عارف د نوي سفر پیلامه ده . د نبي کريم ( ص) په یوه مبارک حدیث کي دې موضوع ته داسي ګوته نیول سوې ده : « الدنیا سجن المؤمن و جنة الکافر » یاني دونيا د مؤمن دپاره محبس او د کاپير دپاره جنت دئ[3] . دغه راز، د مړيني لوړ عرفاني مقام ته په اشارې سره، په یوه بل نبوي حدیث کي، داسي راغلي دي : « الموت تحفة المؤمن » یاني مړينه د مؤمن بېلګ یا سوغات دئ . یوازي دوږخیان او بدکاران له مړيني څخه بېرېږي[4] . په دې توګه، مړينه د عارفانو د عرفاني سير او سلوک هغه پړاو دئ، چي د ناسوتي عالَم یا مادي نړی د زندان ځنځيرونه پکښې ماتيږي؛ او د لاهوت دلوړ عرفاني مقام پر لور نوی سفر پیلیږي[5] .

د پاړسي ژبې د پېنځمي پېړی ستر عرفاني شاعر- ابو معين ناصر بن خسرو بلخي قباديانی ( ٣٩٨ - ٤٨١ هـ ق) ته اصلاً ژوند د مړيني په خاطر ارزښت لري . هغه، په خپلو عرفاني نظريو کي پر دې ټکي ټينګار کيي، چي ژوند هيڅکله نغد مه ګڼئ؛ او د مرګ له پور ه لاس مه اخلئ[6] .

په اسلامي تصوف او عرفان کي تر حقيقي او طبيعي مړيني مخکي د يوی بلي مړيني په باب هم خبري کيږي، چي هغه ته « په ژوند مړينه » ، « تر مرګ مخکي مړينه » یا مانوي ( معنوي) مړينه هم وایي . د دې عرفاني اصطلاح له مخي، عارفان تر حقيقي مړيني مخکي خپل ټول بشري خويونه او ځانګړتياوي له منځه وړي . په بله ژبه، د ريښتيني مینې لېوني عارفان، په ژوندانه کي ځانونه د پتنګ په څېر دعشق په اور کي سوځي؛ د الهي صفاتو په غوره کولو سره، له بشري خويو او غوښتنو لاس اخلي؛ او د يوه څاڅکي په شان د و حدت په ناپايه درياب کي محوه کيږي . دې ډول مانوي مړيني ته د عرفاني سالکانو په ژبه « موت قبل ان موت » وایي .

علي محمد مخلص، د انسانانو د مړيني په باب، د خپل عرفاني پير - بايزيد روښان قدس سره ( ٩٣١ - ٩٨٠ هـ ق) له مشهور عرفاني اثر « صراط التوحيد » څخه د هغه دا څلوريځه راخيستې ده :

« گر شدی سلطان عالَم باز چیست؟
گنج قارون جمع کردی باز چیست؟
چون یقین دانی که مُردن لازم است
تا قیامت زنده مانی باز چیست؟[7] »

مخلص، مړينه د حق تعالی استازی ګڼي . د کاپير انو مړيني ته د « جسمي مړيني »؛ خو د مؤمنانو مړيني ته د« مانوي مړيني » په سترګه ګوري :

« . . . مرگ آمد داعی از حق ای رفـیق!
تا رساند مر ترا سوی شفیق
پیشتر از مرگ میر ای نیک خوی!
تا بیابی دوست را ای دوست جوی!
ور نه از مرگ بشر جــــان عزیز!
می نیابی دوست گر داری تمـیز
کافر و تر سا همی میرد بتــن
کی رسد این قوم جان با ذوالمـنن

پس به مرگ معنوی میر ای جـــوان

تا رسی به دوست بشنو بی گمـان۸ »

**مخلص، په یوه غزله کي له یوې خوا د دونیا په زړه وړونکي بڼ کي د ښکلو ګلانو بېلابېلو عشوه ګریو ته پام اړیي؛ او له بلي خوا د** آل عمران د سورې په یوسلو په پینځه اتیایم آیت ( ۳ : ۱۸۵) « کل نفس ذآئقة الموت . . . » کي د بیان سوي الهي حُکم له مخي، **د کایناتو د هر ژوندي موجود د فنا او نیستۍ عرفاني فلسفي ته، داسي کتنه کیي :**

**د دنیا ملک د ګلونو ښایسته بـــاغ دئ**

**د هر ګل پر زړه يي ایښی د مـــرګ داغ دئ**

**هیڅ زنده په جهان نشته که بـــاور کړې!**

**چي په دا ژوندون يي زړه له مرګ فراغ دئ**

**هغه خوب بېغم به څو ک که په دنیا کښي**

**چي دایم پسي پڅوه د مـــرګ سراغ دئ**

**په یوه پارسي بیت کي وایي، چي عارفانو د مادي عالَم د فنا او نیستۍ تر ژوري څېړني او پېژندني وروسته، بې مړیني بله لار ونه لیدله؛ ځکه يي نو په ژوند کي مړینه او نیستي غوره کړه :**

» . . . ګزیدند فرزانه گان دست فــوت

که در طب ندیدند داروی مــوت۹. . . »

زموږ بینا دل عارف ،علي محمدمخلص، هم د عرفاني اندېښمندانو په شان، په یوه بله غزله کي، د دونیا سرای اوجاړ ملک بولي- هغه ځای، چي هیڅ دوام او بقا نه لري . له دې امله، دریبنتیني پوهي او عقل خاوندانو ته سلا ورکیي، چي دم غنیمت وګڼي؛ او د خپل راتلونکي سفر دپاره، د عرفان او معرفت ارزښتناکه توښه برابره کړي :

په صحت، عافیت ډېر شُکر کړه ګـــرزه!

څو صورت دي سلامت د مـــرګ له داړي

د مرګي د پیل له دارو به خــلاص نشي!

که ګرېز کړې پر خُشکي یا پر نـــواري

د دنیا په اوجاړ سرای کښي مقام مه کړه!

هیڅ عاقل استوګه نه کړي پر اوجـاړي

د اجل ساعت به وړاندي وروستو نشــي

څو سړی له حلقه کښته کانــدي لاړي

دا مرګي تبر په لاس که غوځوي یـــي

د صورت وني پر ځـــای ورتـــه ولاړي

***

د دنیا په نابود ملک استوګه کمـــه

ځکه نوم يي په کتاب کښي دئ اوجاړه

که محل په محکمی لوړ کړې تر غرونو

عاقبت به شي خراب عمارت واړه

په يوه بل ژور عرفاني او فلسفي بيان کي بيا هم د انسان او نور مادي عالَم ويجاړتيا او بي ثباتی ته په پام اړولو سره يادونه کيي، چي د ريښتيني پوهي په زېور سمبال عارفان، د مادي نړیَ ژوند و خپلي ازادي ارواته زيندکی کوونکی قفس ګڼي؛ له دې اسيته تل هڅه او کوښښ کيي، چي د قيد او بند له پنجرو څخه د ازادیَ اسمان ته والوزي . د ده له عرفاني نړی ليد سره سم، يوازي هغه ناپوه او بې خبره کسان د جسم او مادي جهان په قفس کي ژ وندون غوره بولي، چي د بې وزره مرغه په څېر په پراخ او ازاد اسمان کي د الوتني وزرونه ونه لري . وګورئ، په دې پاړسي مثنوي کي، د ده ژور عارفانه بيان :

« آنكه از احوال جسم بيقرار
شد خبر بشنو ز من ای نامــدار
پس قفس گردد بر تن بی ثبات
مرغ روحش از قفس جويد نجـات
آنكه پر دارند مرغی در قفــس
از قفس پرواز جويد هر نفـــس
مرغكی را چون نباشد پر وبال
از قفس بيرون شدن بيند زوال۱۰. . . »

بل ځای دا عرفاني نظريه بيانيي، چي مړينه او نېستي بې الهي امره په هيڅ قيد او شرط پوري نه ده تړلي . هيڅوک د رنګ او پوست، دين او مذهب، ژبي او توکم، حسب او نسب، شأن او شوکت، مال او منال، پوهي او هوښياری، زور او ځواک، ښايست او جمال، روغتيا او ناروغتيا، جنس، عمر او داسي نورو عواملو او دلايلو له مخي ځان د مرګ له بې رحمانه بريده نسي ژغورلای . له دې امله بايد هره شيبه د سفر توښه په لاس، د مرګي د کاروان لار و څاري :

که دانا يي و سفر ته تيار اوسه!
هر زمان و هر نَفَس ته بيدار اوسه!
د سفر د تلوساعت معين نه دئ
و فرمان ته د بادشاه انتظار اوسـه!

***

**د اجـل ساعت به وړاندي وروستو نه که**
**په دنيا کښي که سليمان، سکندر، هوشنګ دئ**

***

**د قضأ سواره بې ژر له آسه کـوز که**
**هر شجاع چي برابر د ده په چنـګ شي**

***

**د مرګي په لاس به کښېوزي خلاص به نـــشي**
**هر چي تښتي نن د دام له سخت نـــراغ دئ**
**هر چي عُمر په دنيا کښي ډېر اوږد غواړي**

**په معنا۱۱ کښې هغه کس په مثال زاغ دئ**

زموږ متفکر عارف، علي محمد مخلص، په خپله لوړه عرفاني شاعرئ کي د فزيکي يا طبيعي مړيني پر عام مفهوم سربېره، د عارفانو د« مانوي مړيني » په باب هم خورا ژوري خبري لري . هغه ، د يار په سوځونکي او لېونی مينه کي د ځان هېرول؛ او د هستي ډوله حجابو ايسته کول، د ريښتيني محبوب د ليدو يوازنۍ لار بولي :

موتوا قبل ان تموت شه دوست وگوره!

ستا هستي، خودي حجاب شو و رعنا ته

په ځينو غزلو کي « موتوا قبل ان تموت » يا « په ژوند مړينه » دشيطان له شره ژغورنه او د معشوق د وصال يوازنی شرط گڼي . مخلص، د يار په مينه کي بې سده عرفاني سالکانو ته خبرداری ورکيي، چي په ژوندانه کي د خپلي انساني جامې په غورځولو سره، د معشوق د وصال مينه ماته کي؛ که نه نو تر مرگ وروسته د دې هيلي پوره کول گران کار دئ :

موتوا قبل ان تموت شه پيش له مرگه

په دنيا کښې حضوري کړه و سبحان ته

که دلي دي زړه اشنا نه وي له حـــــــــقه

په حشر حضوري گرانه و سلطـــــــان ته

***

هر مُحِب چي صفات خپل گڼي فاصل دئ

په مرآت کښي رنگ له کومه دئ خسيسه

موتوا قبل ان تموت شه صـــفات ورکړه!

په نيستی کښي ايمني ده له ابلـيسه

په بله غزله کي د« فنأ في الله » او « بقأ بالله » لوړ عرفاني مقام ته په رسېدو سره د عارفانو په ژوندانه مړينه، پر دې نړئ د لوی ښتن د ديدار ضامن گڼي . مخلص، له خپلو سرسپارلو مينانو سره د لوی ښتن د ديدار دا وعده داسي بيانيي :

چي له مرگه پخوا و مري په جهـــان کښي

خپل ديدار به ور ښرگند په دې جهان کړم

چي په خپله هستي نيست، هست په مولا شي

د هغه به بقايي ور جـــــاودان کړم

چي فنأ في الله بقأ بالله، واصـــل شي

دا واصل به يگانه عارف، سلطان کړم

مخلص، په يوه پارسي بيت کي، حضرت ادريس ( ع ) ته د ابدي ژونديه ورکولو سره، د حق تعالی بې ساری پېرزوينه، په واقعيت کي تر خپلي طبيعي او حقيقي مړيني مخکي، د هغه لوړ پيغمبر د « مانوي مړيني » نتيجه گڼي :

« بمير از پيش مردن گر خيال زندگـــی داری

که ادريس از چنين مردن بهشتی گشت پيش ازما ۱۲ »

مخلص، د « مانوي مړيني » د لوړ عرفاني مقام په پوهېدو سره، د خپل کامل پير، بايزيد روښان، له برکته د لوی ښتن حضور ته دوعا کيي، چي هغه ته د همېشني سکون او ارام مقام ور په برخه کړي :

« . . . مخلصا! گر ز طفيل بايزيد

کشف گرداندترا ملک مجــيد

دور نبود بشنو از من ای فــــلان

از خداوندرحيم و مهـــربان

بر مقام امن بنشاند تـــرا

از سجين و حبس برهانـــد ترا ۱۳ »

مخلص، په يوه بله پاړسي مثنوي کي د عرفاني صاحبدلانو له نظره د « موت » او « فوت » عرفاني توپيرونه ښيي . د ده په نظر« موت » له خلگو او جهانه بېلېدنه ده، چي د خدای د لاري پتنگان يې بې بېري او انديښني، په ډېره مينه او ښُوَب غواړي؛ خو« فوت » د خالق تعالی داسي بېلتون او فراق دئ، چي گالل يې و عارفانو ته ډېر سخت او ربړوونکی دئ . له همدي کبله، عرفاني سالکانو ته سلا ورکيي، چي د خلگو او دونيا پر ځای د خالق لمن ټينگه کي؛ ځکه خلگ او دونيا د ځو ورځو ملگري دي؛ په داسي حال کي، چي خالق د ابدي ژوند ملگری دئ :

« فوت وقت از موت آمد سخت تـــر

پيش صاحب وقت بشنو ای پـــسر

موت آمد فرقت از خلــق جهان

فوت آمد فرقت از خالق بــدان

خلق را بگذار خــــالق را گزين

زانکه از خالق شود کـارت مهين۱۴. . . »

بي ځايه نه ده، چي د « موتوا قبل ان تموت » د عرفاني نظريي په بيان کي د پښتو ادب د تصوفي او عرفاني ښوونځی د بل ستر او بې بديله ستوري - خُوږ ژبي رحمان بابا( ۱۰۴۲- ۱۱۲۸هـ ق) د يوې ښکلي غزلي د ځو بيتو په را نقلولو سره، د علي محمد مخلص د عرفاني فرهنگ د ژوند او مړيني برخه، پر همدې ځای بشپړه کو:

په ژوند و مره چي د مرگ له غمه خلاص شي!

آسان کار دي کړ په ځان بانــدي سخت ولي

غير ي ميني دي په ځان باندي انبار کـــړې!

په کعبه کښي ننباسي بتـــان ولي

زړه د نفس په پيروی در ښخه ولاړ شـــه!

دخبيث په لاس دي ورکړ قـــرآن ولي

**د نورو مالوماتو دپاره وگورئ : تخلقو باخلاق الله ، هستي او نيستي ، فنأ او بقأ ، نفي او اثبات، جمع او جمع الجمع .**

**لمنليکونه**

1 Rasheed 36.

2 Rasheed 35.

۳ حلبی۵۶ .

۴ ابن عربی ۴۰۷ .

۵ **یثربی، فلسفۀ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان** ۱۶۴- ۱۶۵ .

۶ رزمجو ۱۲۵ .

۷ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۷۱۰ .

۸ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۶۷۸- ۶۷۹ .

۹ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۶۸۰ .

۱۰ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۶۲۰.

۱۱ اصل : معنی .

۱۲ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۱۷ .

۱۳ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۶۲۱ .

۱۴ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۷۰۸ .

پاته لري